
**بسم الله الرحمن الرحيم**

# په لېبیا کې وروستي پرمختګونه



**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

په دې وروستیو کې د حفتر د ځواکونو او په السراج پورې مربوطو ډلو تر منځ سختې نښتې شوي، چې له یوه لوري سره د امریکا او له بل لوري سره د اروپا ملاتړ دی. د حفتر ځواکونو اوسمهال د پلازمېنې طرابلس پر لور بریدونه پیل کړي دي. ایا حفتر او د هغه تر شا ولاړه امریکا په اوس وخت کې د طرابلس لاندې کول شوني ګڼي؟ د دوی تر منځ د شخړو د ډېرېدو لامل څه و؟ نو بیا په طرابلس کې د فایز السراج له حکومت څخه د ترکیې په څه مانا؟ ایا په لېبیا کې د روسیې مداخله رښتیا ده او که یوازې د وېرولو لپاره پلمه ده؟ د لېبیا د ناورین په اړه د المان له لوري رابلل شوي له برلین کنفرانس څخه څه تمه کېدای شي؟

**ځواب**:

د دې لپاره چې د پورتنيو پوښتنو ځواب څرګند شي، نو لاندې ټکو ته اشاره کوو:

لومړی: لېبيا له هغې وروسته د دوو اړخونو تر اغېز لاندې راغله، چې امريکا په دې وتوانېدله، ترڅو خپل لاسپوڅی حفتر د دغه هېواد په ناورين کې د يوه غښتلي نظامي اړخ په توګه رامخې ته کړي. هغه سيمې چې د امريکا د لاسپوڅي تر لاس لاندې دي، د هغه واک پرې چلېږي او د لېبيا پر پاتې برخه د بريتانيا او نورې اروپا د لاسپوڅو حکومت چلېږي. کله چې امريکا د خپل لاسپوڅي حفتر پوځي ملاتړ زيات کړ، په تېره بيا د مصر په وسيله، نو په ليبيا کې د ده نفوذ د يو ځواک په توګه را څرګند شو او دا حقيقت هغه مهال ښکاره شو، چې حفتر په سهيلي ليبيا کې خپل وروستي بريدونه وکړل. د اروپا اغېز راکم شو، په ځانګړې ډول کله چې د حفتر ځواکونو د ۲۰۱۹م کال د اپرېل په لومړيو کې پر طرابلس بريدونه پيل کړل. حفتر او د هغه تر شا امريکا غواړي چې په طرابلس کې د اروپايي ملاتړي السراج پر حکومت فشار راولي، ترڅو په دې ډول د لېبيا په سياسي خبرواترو کې غوښنه برخه ځانته رابېله کړي. بل اړخ ته حفتر پر طرابلس د ۲۰۱۹م د اپرېل د پيل له بريدونو وړاندې په جنوب کې د الجزاير له کړکېچ څخه په ګټې اخيستنې سره سيمې په خپل واک کې راوستلې؛ نو په دې سره حفتر ځانته د پښو تکيه کولو ځای پيدا کړ. امريکا په طرابلس کې په رسميت پېژندل شوي حکومت د اغېز کمولو په موخه له حفتر سره د رسمي دولت د يوه چارواکي په څېر په ښکاره توګه اړيکه ټينګه کړه «د امريکا ولسمشر له حفتر سره ټېلفوني خبرې وکړې.» (سکای نيوز عربي،۲۰۱۹/۰۴/۱۹).

**دويم:** اروپا ونه شو کړلی، چې د لېبيا د ستونزې لپاره له سياسي حل پرته بله لار ومومي؛ نو په همدې ډول د المان د لومړۍ وزيرې انګيلا مرکل په نوښت او بلنه د لېبيا د ناورين د ختمېدو په موخه په برلين کې يو نړيوال کنفرانس راوبلل شو. دغه نوښت ته يې کومه ځانګړې نېټه ونه ټاکله. «د المان په پلازمېنه برلين کې د ترسره کېدونکي کنفرانس کره نېټه لا تر اوسه نه ده څرګنده.» (المان ږغ، ۲۰۱۹/۱۲/۱۲). د ځينو ناتاييد شوو رپوټونو له مخې دا کنفرانس به د دغې مياشتې په پای کې جوړ شي. البته دا هغه څه دي چې اروپا غوښتل او د اوو پرمختللو هېوادونو له غونډې وړاندې يې لا پلان ورته جوړ کړی و. «د اوو سترو صنعتي هېوادونو ډلې د لېبيا د ناورين په تړاو د يوه نړيوال کنفرانس د جوړېدو غږ کړی دی. دغې ډلې د خپلې وروستۍ ناستې په پای کې چې د فرانسې په بياريتز ښار کې وه، له ټولو ښکېلو اړخونو او سيمه ايزو ځواکونو څخه وغوښتل، چې په دغه کنفرانس کې ګډون وکړي.» (القدس العربي ۲۰۱۹/۸/۲٦). اروپايي هېوادونه د برلين کنفرانس د ځانو

لپاره د هېلو يو ځرک ګڼي، ترڅو په لېبيا کې د خپل اغېز د ساتلو لپاره د خپلو لاسپوڅو واک وغځوي. «السراج نن په مرکز طرابلس کې د ايټاليې د بهرنيو چارو وزير لويجي دي مياو ته هرکلی ووايه. نوموړي په خپل هېواد کې د ثبات او امنيت په موخه د ايټاليې له شوو مرستو څخه مننه وکړه. دي مياو څرګنده کړه، چې د لېبيا د ناورين لپاره نظامي حل نشته او د دوی هېواد د اسلام د هغو هڅو ملاتړ کوي، چې دا ناورين د سياسي خبرو اترو د لارې حل کوي. نوموړي هېله وښودله چې د لېبيا په چارو کې ښکېل اړخونه به د برلين په کنفرانس کې فعاله برخه اخلي.» (عربي انډيپنډنټ ۲۰۱۹/۱۲/۱۷)

**دريېيم:** داسې ښکاري چې امريکا په ټينګه هڅه کوي، ترڅو د اروپا له لوري د برلين کنفرانس ناکام کړي؛ په ځانګړي ډول هغه مهال چې د لېبيا لپاره د امريکا خاص استازي د برلين کنفرانس ته شرطونه وړاندې کړل. «د لېبيا لپاره د ملګرو ملتونو استازي غسان سلامه د برلين کنفرانس د تياريو په درشل کې له دريو شرطو څخه پرده پورته کړه.» نوموړی ټينګار کوي: «په امنيت شورا کې د غړو هېوادونو نظرونه سره ويشل شوي، چې له امله يې د دغه ناورين د ختم په موخه د نوموړي هڅې پېکه شوي دي....» (بوابت الوسط ۲۰۱۹/۱۳/۱۱).

د نړيوال استازي له دغه ډول بيان څخه د برلين کنفرانس په اړه د امريکا موقف څرګندېږي او داسې ښکاري چې د کنفرانس د جوړېدو کره نېټه له همدې امله له ستونزو سره مخ ده. په هر حال امريکا په دې قناعت ونه کړ او د لېبيا صحنې ته يې دوه نوي لوبغاړي (روسيه او ترکيه) وروپېژندل، چې په دې سره يې د لېبيا په اړه سيمه ييز او نړيوال نظرونه وويشل شول. وړاندې تر دې چې د برلين کنفرانس جوړ شي، د لېبيا صحنې ته د ترکيې او روسيې په ورپېژندل کېدو سره يې د اروپا هڅې پېکه کړې او په ورته وخت کې يې دا هم وښودل، چې اروپا له امريکا سره په حللاره کې کليدي لوبغاړی نه دی؛ بلکې ترکيه او روسيه هم برخه پکې لري، چې په دې سره د اروپا رول کمزوری کېږي. بيا هم دا تمه کېږي؛ که چېرې دا کنفرانس جوړ شي، پايله به يې داسې نه وي لکه اروپا يې چې غواړي. اروپا هڅه کوي امريکايي اړخ قانع کړي، ترڅو له دغه کنفرانس څخه خپل ملاتړ اعلان کړي او په هر ډول چې کېږي برخه پکې واخلي. اروپايي چارواکي هڅه کوي، چې له برلين کنفرانس څخه د امريکا په ملاتړ سره امريکا يو ډول وشرموي. «د المان د بهرنيو چارو وزير ماس په يوه خبري کنفرانس کې له خپل ايټالوي سيال لويجي دي مياو سره په ګډه څرګنده کړه، چې امريکا د برلين کنفرانس ته ډېره لېواله ده او دغه هېواد به له خپل نفوذ څخه په ګټې اخيستنې سره دا کنفرانس بريالی کړي.» (عين ليبيا، ۲۰۱۹/۱۱/۱۰). البته دا اعلان د امريکا له لوري نه و. د امريکا لپاره مهمه دا ده چې پر لېبيا خپل دقيق څار وساتي. په برلين کې د کنفرانس لپاره له ترتيباتي غونډې وروسته د لېبيا لپاره د امريکا سفير ريچارډ نورلانډ د

۲۰۱۹م کال د نومبر په ۱۷مه الجزایر ته سفر وکړ. البته سفیر په کنفرانس کې د برخې اخیستو په موخه دعوت شوی نه و. سفیر د الجزایر د بهرنیو چارو له وزیر بوقادوم سره ولیدل. (القدس العربي، ۲۰۱۹/۲/۱۱.) له دې ښکاري چې امریکا الجزایر له پامه نه غورځوي او په لیبیا کې د حفتر په خلاف د الجزایر له لاسوهنې ډاربږي.

**څلورم:** دا چې امریکا څه ډول د لیبیا صحنې ته د ترکیې او روسیې په ورپېژندلو سره د لوبې قطعې سره ګډې کړې، ترڅو لومړی یې د اروپا او بیا د السراج د موقفونه کمزوره کړي، په لاندې ټکو کې ورته اشاره کوو:

**الف:** امریکا روسیې ته د شنه څراغ په لګولو سره دغه هېواد ته اجازه ورکړه، چې د حفتر په ملاتړ په لیبیا کې لاسوهنه وکړي. له همدې امله د روسیې امنیتي کمپنۍ «واګنر ګروپ» په لیبیا کې راڅرګنده شوه او دا روسی کمپنۍ دا مریکا د بدنامې او مجرمې ډلې «بلک واټر» سیاله ډله ده، چې په عراق کې یې فعالیت کاوه. داسې ښکاري چې امریکا روسیه دې ته هڅولې ترڅو «واګنر ګروپ» په لیبیا کې د حفتر ملاتړ ته ولېږي. دا شخصي امنیتي کمپنۍ په پرمختللو روسي نظامي وسلو سمباله ده؛ لکه د الوتکو د جام کېدو سیستمونه، چې په دې وسیله سره د حفتر تله د خپل مخالف پر وړاندې درنوي. دا کمپنۍ پوتین ته ډېره نږدې ده او د بهرنیو نظامي قراردادونو له لارې پیسې ګټي. د روسیې ولسمشر پوتین ومنله چې د امریکا غوښتنې یې منلې او ویې ویل: «روسیه له حفتر او د السراج له حکومت سره په تماس کې ده.» (روسیه ټوډې، ۲۰۱۹/۱۹/۱۲). په ورته وخت کې امریکا له حفتر څخه ملاتړ کوي: «سپینې ماڼۍ ویلي چې ټرمپ له تروریزم سره د مبارزې په لار کې د فیلډ مارشال حفتر رول ستایلی دی او ډېره خوښه ده چې نوموړې د لیبیا د نفتو سرچینې خوندي ساتلي دي.» (دویچ ویله، ۲۰۱۹/۱۱/۲۴). امریکا غواړي داسې وښیي، چې لیبیا د روسیې او د دوی تر منځ د جګړې ډګر دی. د دویچ زیاته کړه، جرمني خبري اژانس د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۴مه د امریکا د حکومتي ادارو یوه اعلامیه خپره کړه: «موږ د لیبیا د ځمکني حاکمیت او خپلواکۍ ملاتړ کوو او د روسیې هغه هڅې غندو، چې د لیبیا د ولس د غوښتنو خلاف دي.»

**ب:** د ترکیې اړخ، د لیبیا په ناورین کې د ترکیې رول خورا بارز او جوت دی. «د ترکیې ولسمشر اردوغان او د لیبیا لومړي وزیر فایز السراج د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۷مه یو هوکړه لیک لاسلیک کړ، چې له مخې به یې انقره له طرابلس سره امنیتي او نظامي همکاري کوي او سمندري سیمې به معلوموي.» اردوغان په خپلو څرګندونو کې خبریالانو ته وویل: «مصر په لیبیا کې څه کوي؟ د ابوظبۍ دولت په لیبیا کې څه کوي؟» اردوغان د روسیې د رول په اړه وویل: «د یوې ډلې په وسیله چې واګنر نومېږي، هغوی په څرګند ډول په لیبیا کې د

حفتر د کرایي اجیرانو په توګه چارې پر مخ بیایي او تاسې پوهېږئ چې د دې ډلې مالي ملاتړ څوک کوي؟»
نوموړي همدا راز وویل: «همدا حقیقت دی او زموږ لپاره به دا صحیح نه وي چې د دغه هرڅه پر وړاندې غلي پاتې شو. موږ تر خپله وسه هڅه کړې او خپلو هڅو ته به ادامه ورکوو.» (الجزیره نټ، ۲۰۱۹/۱۲/۲۰). په پایله کې د ترکیې پارلمان د اردوغان پروژه تصویب کړه: «د ترکیې پارلمان د ۳۲۵ موافقو او ۱۸۴مخالفو رایو په نظر کې نیولو سره تایید کړه، چې د فایز السراج په مشرۍ د طرابلس د هغه حکومت په ملاتړ دې ترکي پوځیان لیبیا ته واستول شي، چې ملګرو ملتونو په رسمیت پېژندلی دی.» دا حکم انقرې ته اجازه ورکوي چې په رسمیت پېژندل شوي حکومت ته غیر نظامي پوځیان د مشوره ورکوونکو او روزونکو په توګه ولېږي، ترڅو په طرابلس کې د خلیفه حفتر په خلاف جګړه کې مرسته وکړي. (بي بي سي عربي، ۰۲/۰۱/۲۰۲۰).

**پنځم:** په لیبیا کې د ترکیې د ورګډې ځخه د امریکا موخه دا نه ده، چې دغه هېواد دې د فایز السراج ملاتړ وکړي، لکه څنګه چې اردوغان اعلان وکړ؛ بلکې په دې سره روان حالات لا پېچلي کوي او امریکا پکې ځایي، سیمه ییز او نړیوال اهداف لري، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱- په ځایي کچه**، ځینې وسله والې ډلې چې ځانونو ته "منځلاري اسلامپال" وایي، د السراج حکومت په اډانه کې شته او ترکیې له خپلې پوځي ښکېلتیا څخه مخکې له هغوی سره تماسونه لرل او اوس د ترکیې لپاره اسانه ده چې یادې ډلې د مرګ کومې ته ور ټېل وهي، لکه څرنګه چې په سوریه کې له خپلو وفادارو ډلو سره ورته چلند وکړ او سیمه یې مجرم بشار ته په واک کې ورکړه. له همدې امله ترکیه په لیبیا کې داسې جګړه مخ ته وړي چې وفادارې ډلې سره وویشي او د حفتر پر وړاندې د السراج حکومت کمزوری کړي. السراج باید پوه شي چې اردوغان د امریکایي ګټو پر مدار څرخي او د ده د ملاتړ لپاره نه دی ښکېل شوی، خو د دې لپاره چې هغه تېرباسي او د حفتر تله درنده کړي، نو د یادو وسله والو ډلو د کمزورولو په فکر کې دی، ترڅو مهمې سیمې د هغوی له لاسه ووزي، لکه څرنګه چې یې په سوریه کې ورته چاره ترسره کړه.که څه هم السراج له اروپا سره په همږغۍ هڅه کوي، چې له ترکیې سره د نژدېوالې له لارې امریکا وشرموي او اردوغان د خپل حکومت ملاتړ ته اړ کړي، لکه یو په رسمیت پېژندل شوی حکومت چې له بل هر هیواد څخه د مرستې غوښتلو حق لري. اروپا پر ترکیه باندې د پوځي ښکېلتیا له امله سختې نیوکې کوي او امریکا او مصر هم د ترکیې ښکېلتیا غندي. السراج او تر شا یې اروپا هیله لري چې توندې نیوکې او شورماشور به امریکا وهڅوي، چې د حفتر او مصر فشارونه پر السراج راکم کړي.

**۲- په سیمه ییزه کچه**، د ترکیې د پوځي ښکېلتیا له امله اوس مصر کولای شي په داسې حال کې د حفتر ملاتړ وکړي، چې الجزایر د خپلو کورنیو ستونزو له امله د السراج د حکومت ملاتړ نشي کولی. مصر ښایي نیغ په

نیغه خپل ځواکونه لېبیا ته ولېږي، په داسې حال کې چې د السراج له حکومت څخه د ترکیې ملاتړ نمایشي دی، نه اصلي؛ لکه له خپلو وفادارو سوري وسله والو ډلو سره و. څرنګه چې ترکیه له لېبیا څخه لېرې ده او هلته د هغې اهداف لاسته راوړل کومه مانا نه لري او د خبرو اترو څخه هدف دا دی چې ترکیه لېبیایي ځواکونه په خپل ولکه کې راولي، خو په بدل کې به یې ترکیې ته د سوریې په څېر له زیان (سراب) پرته بل څه په لاس ور نه شي.

**۳- په نړیواله کچه**، د ترکیې پوځي ښکېلتیا د لېبیا سیمه د روسیې او ترکیې ترمنځ د کشمکش او لېوالتیا په ډګر بدله کړې او اوس د دغه کار پیل دی. اردوغان په لېبیا کې د روسیې پوځي حضور وغنده او روسیې د ترکیې له پوځي ښکلېتیا سره مخالفت څرګند کړ. له یادو اعلامیو وروسته نورې داسې اعلامیې راغلې چې په لېبیا کې د ترکیې او روسیې ترمنځ د هوکړو په تړاو وې. په لېبیا کې دغه وروستي پرمختګونه له هغو دسیسو سره بشپړ ورته والی لري، چې ترکیې له روسیې سره یو ځای د سوریې په حالاتو کې ترسره کړل.

۴- اردوغان غواړي چې د السراج له حکومت سره له ګازو او نفتو څخه د ګټې اخستنې او موندنې په تړاو هوکړه لاسلیک کړي او په دې پلمه خپل ولس تېرباسي. د ترکیې د انرژۍ وزیر فتح دومینز وویل: «کله چې د انقرې او طرابلس د حکومت ترمنځ هوکړه وشي او په ملګرو ملتونو کې ثبت شي، نو ترکیه به په سیمه کې د ګازو او تېلو په سپړلو او تولیدولو پیل وکړي.» نوموړي بیا زیاته کړه: «زه فکر کوم چې موږ به د ۲۰۲۰م کال په لومړیو میاشتو کې یاده پروسه پیل کړو.» (رویټر،۱۸/۱۲/۲۰۱۹). داسې ښکاري چې اردوغان ته د تېرایستلو یو موکه په لاس ورغلې، چې ګواکي د ده پوځي ښکلتیا هلته د ګازو او تېلو لټه ده. له همدې امله ده هوکړه لاسلیک کړه، داسې یو اقدام چې نوموړي څه موده مخکې د مدیترانې سمندرګي ۱۰۰ کیلومتره ژور د اناتولي په ایالت کې د ۲۰۱۸م کال له اکتوبر میاشتي راهیسې د ګازو په لټه کې و، چې هغه هڅه یې بیا ناکامه شوه. د ترکیې د انرژۍ وزیر ومنله، چې ترکیه د تېلو او ګازو د سپړولو په موخه کیندنې نه کوي، که څه هم چې بیړۍ یې د همدې موخې لپاره لېږلې دي. دی اوس غواړي چې له همدې لارې خپل ولس تېرباسي، چې د ترکیې پوځي ښکېلتیا ګواکي د ګازو او تېلو موندنې دي او په دې سره د ترکیې ګټې خوندي کېږي، په داسې حال کې چې دی په لېبیا کې د امریکا لپاره دغه دوه مخی رول لوبوي.

**شپږم:** د طرابلس د جګړې د حل په تړاو په ورستیو میاشتو کې ځینو لاملونو د حفتر پله درنده کړه:

۱- هغه ګډه وډه صحنه چې امریکا د اروپا پر وړاندې جوړه کړې ده، هلته یې ترکیه او روسیه ښکېلې کړې. د مصر رول یې پیاوړی کړ، لکه پاس مو چې یادونه وکړه. په دې سره حفتر چې تش په نامه د لېبیا د ملي پوځ مشر دی، په طرابلس کې پوځي عملیاتو ته زور ورکړ. نوموړي د پنجشنبې په ماښام د ډسمبر پر ۱۲ مه د

غوځي جګړې د پيل او د طرابلس لور ته د پرمختګ اعلان وکړ، په دې سره يې مخکښو قطعاتو ته د جګړه ييزو مقرارتو د مراعتولو امر ورکړ. حفتر په پوځي جامو کې د يوې تلويزيونې وينا له لارې ټولو پوځي قطعاتو ته د پوځي جامو په تن کولو دستور ورکړ. ده زياته کړه: «موږ غوځه جګړه کوو او د پلازمېنې د زړه لور ته ځو....» (دويچ ويله المان، ۱۲/۱۲/۲۰۱۹). اوس په پوځي عملياتو کې ډېروالی راغلی دی.

۲- د روسيې د ښکېلتيا په تړاو په ځانګړي ډول له حفتر څخه د روسيې د واګنر پوځي قطعي ملاتړ، په داسې حال کې چې امريکا روسيې ته د ښکېلتيا او د خپل لاسپوڅي حفتر د ملاتړ شين څراغ ورکړ. واګنر هغه قراردادي پوځي قطعه ده چې په پرمختللو روسي وسلو لکه د الوتنې د بندولو په سيستمونو سمبال ده، چې د يادې قطعې ملاتړ حفتر ته پر خپلو مخالفينو باندې لوی لاس ورکوي. روسي ولسمشر پوټين ومنله چې د امريکا غوښتنو ته ځواب وايي. ده زياته کړه: «روسيې له حفتر او د السراج له حکومت سره اړيکې لري....» (روسيه ټوډې، ۱۹/۱۲/۲۰۱۹).

۳- په لېبيا کې د ترکي ښکېلتيا په تړاو، هلته ګڼې وسله والې ډلې د السراج حکومت په اډانه کې شته چې ځانونو ته "منځلاري اسلامپال" وايي او له پوځي ښکېلتيا مخکې ترکيې له هغوی سره اړيکې لرلې او د ترکيې لپاره اسانه ده چې يادې ډلې د مرګ کومې ته ټېل وهي، لکه څرنګه چې ترکيې له خپلو وفادارو ډلو سره په سوريه کې ورته کار ترسره کړ، چې په پايله کې ګڼې سيمې په سوريه کې مجرم بشار ته وسپارلې. له همدې امله د ترکيې جګړه په لېبيا کې د دې لپاره ده چې هغې ته وفادارې ډلې له جګړې لاس واخلي او د السراج حکومت د حفتر پر وړاندې کمزروی کړي. دا يو اړخ دی، له بل لوري د ترکيې پوځي ښکېلتيا په لېبيا کې د دې لپاره وه، چې مصر خپله پټه کړې پوځي ښکېلتيا په څرګند ډول اعلان کړي.

۴- د ترکيې او روسيې تر منځ د چل ول په تړاو، لکه څرنګه چې په ظاهره ترکيه د السراج له حکومت څخه ملاتړ کوي، نو ځکه اردوغان پر روسيې د حفتر د ملاتړ له امله نيوکه وکړه. ده وويل: «د واګنر قطعه په لېبيا د حفتر کرايي اجيران دي. تاسو پوهېږئ چې د دې قطعې لګښت څوک ورکوي؟» ده زياته کړه: «مسله همدغه ده، دا سمه نه ده چې موږ د دې ټولو پر وړاندې غلي پاتې شو. موږ تر اوسه خپله اعظمي هڅه کړې ده او همدا ډول به دوام ورکوو...» (الجزيره نيټ، ۲۰/۱۲/۲۰۱۹). دوې ورځې وروسته ده له پوټين سره د ليدو کتو اعلان وکړ. ده او پوټين يو دوه کسيز هيت وټاکه، چې په لېبيا کې د ورستيو پرمختياوو جاج واخلي او د دواړو هېوادونو چارواکي به ژر يو له بل سره يوه ناسته ولري.... (ترکيې اين ټي وي، ۱۸/۱۲/۲۰۱۹). اوسنی حالت هم له هغه حالت سره ورته دی، چې اردوغان له روسي چارواکو سره کتلي وو او همکاري يې ورسره کړې وه- هغه روسيه چې د سوريې پر خلکو شپه او ورځ بمونه غورځوي او دی همدارنګه په ورته وخت کې دوه مخيتوب کوي چې ګواکي دی د سوريې د خلکو او هلته وسله والو ډلو ملاتړی دی. دواړه لوري هلته لوبه مخ ته وړي او فکر کوي

چې خلک نه پرې پوهېږي؛ په داسې حال کې چې د دوی لوبه افشا شوې ده. الجزیره نیټ د ۲۰۱۹م کال د ډسمبر په ۲۰مه د ایټالوي کورېر ډېلا سیرا ویبپاڼې په حواله راپور ورکړ: «لېبیا د ترکیې-روسیې د لوبې په ډګر بدله شوې او د دواړو لورو ترمنځ یوه هوکړه شته، چې په تور سمندرګي کې به پلې شي او دوی چمتو دي چې د سوریې د سولې تجربه په لېبیا کې هم تکرار کړي.» د ترکیې-روسیې چل ول د حفتر کار اسانه او  لا نور چټکوي.

د یادو څلورو لاملونه له امله د حفتر دریځ پیاوړی شو او په طرابلس کې یې جګړو ته زور ورکړ او دغه کار دی نور هم وهڅاوه. البته یاد څلور لاملونه د امریکا له لوري د حفتر د ملاتړ لپاره رامنځته شول. د السراج په تړاو باید ووایو چې له شک پرته اروپا په ځانګړي ډول برتانیه، فرانسه او ایټالیا د هغه ملاتړ کوي. د وسله والو ډلو په ځانګړي ډول د میسورت جنګیالو پر ثبات او ټینګوالي سربېره، د بهرنیو لاسوهنو دوام او پر طرابلس پوځي فشار او د السراج له حکومت څخه د وسله والو ملاتړو بېلولو مانا دا ده، چې د اروپا اغېز په لېبیا کې نور په لړزېدو دی. په لېبیا کې د اروپا او برتانیې د سیاسي فضا حاکمیت سربېره دوی د خپل نفوذ په ساتلو کې پاتې راغلل. په ځانګړي ډول وروسته له هغې چې امریکا خپلې د لوبې قطعې په ډګر کې د روسیې او ترکیې په ښکېلولو سره واچولې. یعنې په لېبیا کې ورستیو پېښو او موندنو ته په کتو د اروپایي اغېز بېرته ستنول ستونزمن دي. که څه هم په نږدې راتلونکي کې له پوځي لارې د لېبیا کړکېچ حلول ناشونی دی، نو له همدې امله ښایي سیاسي حللارې ته مخه کړي او جوړجاړی چې د پانګوالی نظام یوه ارزښت دی، غوره کړي. البته پوځي موازنې ته په کتو د ګڼو سیاسي لاسته راوړنو په نظر کې نیولو سره په اوس وخت کې د حفتر یعنې امریکا پله درنه ده.

**اووم:** په پایله کې ویلای شو چې دا ډېره دردناکه ده، چې اسلامي نړۍ د کافرو ښکېلاکګرو د جګړې په ډګر اوښتې ده. له موږ څخه د یوې وسیلې په توګه د خپلو او خپلو خلکو د ګټو د ساتلو لپاره کار اخلي او په اسلامي هېوادونو کې کفارو ته د حکامو وفاداري د خپلو ناوړه چوکیو د ساتلو په موخه ده، چې له لاسه یې ور نه کړي. یاد مشران نه پوهېږي چې غوره پایله د رښتینو کسانو، اسلام او مسلمانانو په برخه کېدونکې ده او بیا به دوی پښېمانه وي او هغه وخت به پښېماني هېڅ ګټه ونه کړي.

**﴿فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَنْ تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِنْ عِنْدِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَى مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ﴾**

[المائدة: ۵۲]

**ژباړه:** *نو ته به هغه کسان وینې چې د هغوی په زړونو کې ناروغي ده، چې له دوی سره منډې وهي او دوی وايي: موږ وېرېږو (له دې څخه) چې موږ ته څه مصیبت راورسي، نو زر ده چې الله سبحانه وتعالی به فتحه راولي یا به له خپلې خوا څخه کوم بل حکم راولي؛ نو دوی به په هغو خبرو پښېمانه شي، خپلو نفسونو کې یې پټې ساتلې وې.*

**۱۴۴۱ هـ.ق، د جمادي الاول ۱۱ مه**

**۲۰۲۰ م، د جنوري ٦ مه**